What's new?
Overview of the new
Child Safe Standards

Pashto

# د ماشوم لپاره د ویکتوریا نوي خوندي معیارونه

# څه نوي دي؟

## د ماشوم لپاره خوندي نویو معیارونو ته عمومي کتنه

په جنوري 2016م کې په ویکتوریا کې د ماشوم لپاره خوندي معیارونه رامنځته شول. د پنځو کلونو څخه وروسته، موږ ولیدل چې څرنګه دغو معیارونو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره خوندیتوب ښه کړلو.

بدلونونه د دې لپاره رامنځته شول، ترڅو زموږ معیارونه نور هم پیاوړي کړي.

هغه مؤسسې[1] چې د دې معیارونو تر چتر لاندې راځي، اړ دي چې د **جولای 1، 2022** نیټې پورې د نویو معیارونو سره ځانونه برابر کړي، خو تر دغه وخته پورې به دا اوسني معیارونه کاریږي.

نوي معیارونه لږترلږه مقررات رامنځته کوي او د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د خوندي ساتلو لپاره هغه کړنې په ګوته کوي چې مؤسسې یې باید ترسره کړي. دوی د مؤسسو لپاره ډېر توضیحات چمتو کوي او په ټوله استرالیا کې د معیارونو سره ډیر سمون لري.

هغه شیان چې مؤسسې یې دمخه د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د خوندي ساتلو لپاره ترسره کوي؛ له دوی سره به مرسته وکړي ترڅو د نویو معیارونو سره سمون ولري. په ځینو برخو کې به مؤسسې اړ وي چې د نویو معیارونو سره د ځان د عیارولو لپاره د ماشوم د اوسني خوندیتوب پالیسی، دودونه او سازماني کلتور ته بدلون یا وده ورکړي.

دغه لارښود به د سازمانونو لپاره ګټور وي، څکه چې دوی به د نویو معیارونو سره اشنا شي او د ماشومانو د خوندیتوب په اړه به د خپلو پالیسیو، طرزالعملونو او کړنو بیاکتنه پیل کړي، ترڅو نوي فعالیتونه چې ورته اړتیا لري د نویو معیارونو سره سمون ولري. هغه څه چې په دې لارښود کې راغلي دي او دا چې څه بدلون مومي؟ *د ماشوم د نویو معیارونو د پخوانیو معیارونو سره پرتله کول دي او امکان لري چې د کمیسیون هغه پوښتنې چې* ډېر ځل تکراریږي ګټورې و اوسي.

نور معلومات او لارښووني به په راتلونکو میاشتو کې د مؤسساتو سره د مرسته کولو لپاره وړاندې شي، او هرکله چې د کمیسیون لخوا نوي معلومات او لارښود خپور شي، نو بیا تاسې کولی شئ چې دلته د بریښنالیکونو د ترلاسه کولو لپاره ګډون وکړئ.

لاندې مهالویش د نویو معیارونو لپاره د نویو شروطو لنډیز بیانوي.

[1] د اړونده نهادونو لپاره ټول ریفرېنسونه په دغه سند کې د سازمان/سازمانونو په لاسرسري باندې بدل شوی دي. اړونده نهاد د *ماشومانو مسلامتیا او خوندیتوب د 2005 کال قانون په* 3(1) برخه کې تشریح شوی دی او هغه نهادونه په ګوته کوي چې د خوندي ماشوم معیارونه باید رعایت کړي.

COMMISSION FOR CHILDREN AND YOUNG PEOPLE

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 1 خوندي معیار – مؤسسات د کلتور له پلوه خوندي چاپیریال رامنځته کوي په کوم چې د اصلي اوسیدونکو دماشومانو او تنکیو ځوانانو بیلابیلو او ځانګړو هویتونو او تجربو ته درناوی او ارزښت ورکول کیږي.**<br><br>د ماشوم د 1 خوندي معیار سره په مطابقت کې وي یوه مؤسسه باید لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:<br><br>1.1 ماشوم وړتیا ولري چې د خپل کلتور څرګندونه وکړي او خپل کلتوري حقوق پرځای کړي چې هڅونه او په فعاله توګه ترې ملاتړ کیږي.<br><br>1.2 د مؤسسې په دننه کې ستراتیجیانې رامنځته شي کومې چې د دغې مؤسسې ټول غړي مجهز او پوه کړي ترڅو د اصلي اوسیدونکو کلتور درک کړي او د هغوی ځواک وستایي او د اصلي اوسیدونکو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د دغه کلتور په اهمیت پوه شي.<br><br>1.3 د مؤسسې لخوا ګامونه واخیستل شي ترڅو د مؤسسې دننه توکمیزم وپیژندل شی، مخه یې ونیول شی او تحمل نه شي. د توکمیزم د هرې پیښې به د مناسبو عواقبو سره سم چلند وکړای شي.<br><br>1.4 مؤسسه باید به فعاله توګه په خپل دننه کې د اصلي اوسیدونکو د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او د هغوی د کورنیو ملاتړ او برخې اخیستنې ته لاره کړي.<br><br>1.5 د مؤسسې ټولې پالیسیانې، طرزالعملونه، سیستمونه او پروسې باید په مجموعي شکل د کلتور له پلوه یو خوندي او ټولشموله چاپیریال رامنځته کړی او د اصلی اوسیدونکو د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او د هغوی د کورنیو اړتیاوې پوره کړي. | د ماشوم 1 خوندي نوی معیار له مؤسسو څخه غواړي چې د اصلي اوسیدونکو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره په کلتوري توګه د خوندي چاپیریال د رامنځته کولو لپاره نوي ګامونه پورته کړي. مؤسسې باید دا غوښتنه پوره کړي، پرته لدې چې دوی په دې وپوهیږي او که نه چې د اصلي اوسیدونکو ماشومان او ځوانان دغلته دي څوک چې اوسهمال خپل چوپړونه او اسانتیاوې کاروي.<br><br>د ماشوم 1 خوندي نوی معیار په دې معنی دی چې ډیری مؤسسې به د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو او د دوی کورنیو لپاره د خوندي چاپیریال رامینځته کولو لپاره خپلو اوسنۍ رسیدنې ته ښه توب ورکړي. د دې معیار پلي کول به جاري هڅو ته اړتیا ولري، نه یو ځل بدلون ته.<br><br>دا معیار د 5 نوي معیار سره وصلیږي کوم چې د دې غوښتنه کوي، چې انډول وساتل شی او په مؤسساتو کې باید بېلابېلو اړتیاو ته درناوی وشي. | کمیسیون د ماشوم د خوندي نوي معیارونو سره د سمون لپاره د مؤسسو سره د مرستې لپاره د نوېو وقفې سرچینو د رامنځته کولو په حال کې دی.<br><br>.1<br>د اصلي اوسیدونکو او د ټاپوګانو د اوسیدونکو د ماشومانو د پاملرنې دار الانشاء (SNAICC) داسې [سرچینې](#) رامنځته کړي دي، ترڅو د هغو سازمانونو، چې د اصلي اوسیدونکو او د ټاپوګانو د اوسیدونکو د ماشومانو، تنکیو ځوانانو او ټولنو سره د ماشوم لپاره د خوندي چاپیریال د رامنځته کولو په برخه کې کار کوي ملاتړ ترې وکړي.<br><br>همدا راز [د ماشوم د خوندیتوب لپاره د یو سازمان رامنځته کول](#) د کمیسون د لارښود په برخه کې هم د "تنوع او هم د کلتوري توپیر ته د درناوي له لارې د ماشوم خوندیتوب" ځینې اړونده لارښوونې لري. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 2 خوندي معیار – د ماشوم خوندیتوب او هوساینه ته د مؤسسې په مشرتابه، حکومتدارۍ او کلتور کې ځای ورکړل شوی دی.**<br><br>د ماشوم د 2 خوندي معیار سره په مطابقت کې وي یوه مؤسسه باید لږترلږه ډاډ ترلاسه کړي چې:<br><br>2.1 مؤسسه د ماشوم د خوندیتوب لپاره عامه ژمنه کوي.<br>2.2 د ماشوم له خوندي کلتور څخه د مؤسسې په ټولو برخو کې بشپړ ملاتړ شوی دی او څرګند شوی هم دی.<br>2.3 د حکومتدارۍ ترتیبات په ټولو کچو کې د ماشوم خوندیتوب او هوساینې پالیسي پلي کول اسانه کوي.<br>2.4 د چلند اصول د کارمنانو او رضاکارانو لپاره د متوقعه معیارونو او مسؤولیتونو په اړه لارښوونې وړاندې کړي.<br>2.5 د خطر د مدیریت ستراتیژیانې ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته د متوجه خطرونو په مخنیوي، پیژندلو او کمولو تمرکز کوي.<br>2.6 کارمندان او رضاکاران د معلوماتو د شریکولو او ریکارډ ساتلو په اړه خپل مسؤلیتونه درک کوي. | د ماشوم خوندي نوی معیار 2 ډیری اړخونه د هغه څه سره سمون خوري چې اوسمهال مؤسسې اړ دي، چې د موجوده 1، 2 او 3 معیارونو سره یې په مطابقت کې ترسره کړي.<br><br>د ماشوم خوندي معیار 2 د معلوماتو په شریکولو، ریکارډ ساتلو او حکومتدارۍ ترتیباتو باندې خورا ټینګار کوي، ترڅو د یوې ادارې په ټولو کچو کې د ماشوم خوندي کلتور رامینځته کړي. اړینه ده چې ماشومانو ته د متوجه خطرونو اداره کول د مؤسسې په مشرتابه، حکومتدارۍ او کلتور کې ځای ورکړل شي. | د ماشوم لپاره د خوندي مؤسسې د کمیسون لارښود د اوسنیو معیارونو په برخو 1، 2 او 3 کې ځینې اړونده لارښوونې لري.<br><br>د ماشومانو د سرپرستانو د نوي سویلي ویلز دفتر د چلند اصول: دا د ماشوم د خوندي چلند اصولو د رامنځته کولو یو لارښود دی، چې د ماشوم د خوندي چلند اصولو د رامنځته کولو په اړه اړونده پراخه سلامشورې ورکوي.<br><br>د 1 ملي اصولو اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنایي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معيارونه (په 1 جولای، 2022م کې پيلېږي) | څه نوي دي او يا بدلېږي؟ | ګټورې سرچينې |
|---|---|---|
| **د ماشوم 3 خوندي معيار - ماشومان او ځوانان د خپلو حقونو په اړه ځواکمن کېږي، په پرېکړو کې برخه اخلي کومې چې ورباندې اغېزه کوي او په جدي توګه څېرل کېږي.**<br>د ماشوم 3 خوندي معيار سره په مطابقت کې، يوه مؤسسه بايد لږترلږه د لاندې موارد په اړه ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>3.1 د خونديتوب، معلوماتو او برخه اخيستنې په ګډون، ماشومان او تنکي ځوانان د هغوی د ټولو حقونو په اړه خبر شوي دي.<br>3.2 د ملګرتيا د ارزښت پيژندل شودی دی او د همزولو څخه ملاتړ ته هڅونه شوې ده، ترڅو د ماشومانو او تنکيو ځوانانو سره د خوندي احساس په کولو کې مرسته وکړي او لږ تجريد شي.<br>3.3 وضعيت او شرايطو ته په کتو، ماشومانو او تنکيو ځواناتو ته د جنسي تيري د مخنيوي برنامې او د عمر اړونده د مناسبو معلومات ورکول شي.<br>3.4 کارمندان او رضاکاران د ځورونې د علاماتو د پيژندلو لپاره توافق وکړي او د ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره د ماشوم دوستانه لاروچارو اسانياوې برابرې کړي، د پرېکړې په اخيستلو کې ګډون وکړي او خپلې اندېښنې شريکې کړي.<br>3.5 مؤسسات د کلتور د ودې لپاره ستراتيژيانې ولري کومې چې ګډون ته لاره هواروي او د ماشومانو او تنکيو ځوانانو فعاليت ته ځواب ويونکې وي.<br>3.6 مؤسسات ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د برخې اخيستنې فرصتونه برابر کړي او د دوی برخې اخيستنې ته ځواب ويونکي واوسي او په دې توګه دا چاره باور او ښکېلتيا پياوړې کوي. | د ماشومانو خوندي معيارونه تل له مؤسساتو څخه غوښتنه لري، چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو د ځواکمنولو لپاره ستراتيژيانې ولري او د هغوی ګډون ته وده ورکړي. دا مسؤليتونه په خپل ځای کې خوندي دي.<br>د ماشوم په 3 نوي خوندي معيار کې د مؤسساتو لپاره په اضافي شروطو کې لاندې موارد شامل دي، لکه:<br>• ماشومان او تنکي ځوانان د هغوی د حقونو په اړه خبرول.<br>• د ملګرتيا د ارزښت پيژندل او له همزولو څخه ملاتړ ته هڅونه ترڅو د خوندي احساس کولو او يو بل سره په اړيکه کې د پاتې کېدو په اړه د ماشومانو او ځوانانو سره مرسته وکړي.<br>• ماشومانو او تنکي ځوانانو ته د جنسي تيري د مخنيوي په اړه اړونده برنامې وړاندې کول.<br>• د کارمندانو او رضاکارانو مجهز کول، ترڅو هغه نښې نښانې په ګوته کړي چې ماشومانو ته زيان رسوي. | [د کميسيون ځواکمنتيا او برخه اخيستنه: دا د هغو مؤسساتو لپاره لارښود دی،](#) چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو سره يوځای کار کوي او د مؤسساتو لپاره د ځواکمنيدو او برخې اخيستنې په اړه عملي او د لاسرسي وړ لارښود چمتو کوي او دا چې څرنګه يې پلی کړي. د ډېری ماشومانو حقونه د ملګرو ملتونو د ماشوم د حقونو اړوند کنوانسيون لاندې رامنځته شوي دي. ملګرو ملتونو د دغې په اړه يوه [نمونه پېژه کاپي خپره کړې ده.](#)<br>[د ښوونځيو لپاره د پوهنې او روزنې رياست لارښود](#) د ناوړه ګټه اخيستنې د مختلفو ډولونو د نښو په اړه ګټور معلومات لري.<br>[د ماشوم د خوندي مؤسسې د رامينځته کولو لپاره د کميسيون لارښود](#) د اوسني 7 معيار په برخه کې ځينې اړونده لارښوونې لري.<br>د 2 ملي اصولو اړوند د آسټراليا د بشري حقونو کميسون د برېښنايي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او [د ماشومانو د خوندی مؤسسو د برېښنايي زده کړو د پورټال](#) له لارې ورته لاسرسی کيدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 4 خوندي معیار – د ماشوم خوندیتوب او هوساینې ته د ودې ورکولو لپاره کورنۍ او ټولنې خبرول کیږي او ښکیلیږي.**<br>د ماشوم 4 خوندي معیار سره په مطابقت کې یوه مؤسسه باید لږترلږه دا ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>4.1 کورنۍ په پریکړو کې برخه اخلي کومه چې د دوی پر ماشوم اغیزه کوي.<br>4.2 مؤسسه د کورنیو او ټولنو سره ښکیلیږي او د هغوی ماشوم ته د یوې خوندي رسیدنې او د اړونده شته معلوماتو په اړه ورسره په ښکاره توګه اړیکه نیسي.<br>4.3 کورنۍ او ټولنې په پرمختګ کې خپل نظریات شریکوي او د مؤسسې پالیسیانو او کړنلارو ته بیاکتنه کوي.<br>4.4 کورنۍ، سرپرستان او ټولنه د مؤسسې د عملیاتو او ادارې په اړه خبرول کیږي. | د ماشومانو د اوسني خوندي معیارونو د یوې برخې سره د مطابقت په توګه، ډیری مؤسسات له مخکې څخه کورنۍ او ټولنې خبروي او ښکیل کوي.<br>د ماشوم 4 خوندي نوی معیار د مؤسساتو لپاره ځانګړي مکلفیتونه رامینځته کوي، ترڅو د ماشوم د خوندیتوب په وده ورکولو کې کورنۍ او ټولنې ښکیل کړي.<br>نوي مکلفیتونه پدې معنا دي، چې مؤسسات باید دا ډاډ ورکړي چې دوی:<br>• په هغو پریکړو کې چې په ماشومانو او تنکیو ځوانانو اغیزه کوي د کورنیو او ټولنو سلامشورې غواړي او غوږ ورته نیسي.<br>• کورنۍ او ټولنې په پرمختګونو کې ښکیل کیږي او د خپلو ماشومانو خوندي پالیسیو او کړنو ته بیاکتنه کوي.<br>• د دې په اړه چې څه ډول د ماشوم د خوندیتوب اندیښنې راپورته کړي او مؤسسات څرنګه وکولای شي چې په دې برخه کې کار وکړي د ټولنو او کورنیو سره یې په اړه په اغیزمنه توګه مفاهمه او اړیکه نیسي.<br>• د کورنیو د تنوع په پام کې نیسي او د خنډونو د راکمولو لپاره ګامونه پورته کوي. | د ماشومانو او ټولنو ښکیلتیا له مخکې څخه د ماشوم لپاره د یوې خوندي مؤسسې په رامنځته کولو کې د یو ښه عمل په توګه تجویز شوې ده.<br><br>د 3 ملي اصولو اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنایي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 5 خوندي معیار – مساوي حقونو او بیلابیلاو اړتیاو ته باید په پالیسیو او کړنلارو کې درناوی شوي دی.**<br><br>یوه مؤسسه باید د ماشوم 5 خوندي معیار سره په مطابقت کې لږترلږه د لاندې مواردو په اړه ډاډ ترلاسه کړي چې:<br><br>5.1 مؤسسه، د کارمنانو او رضاکارانو په ګډون باید د ماشومانو او تنکیو ځوانانو مختلف حالاتونه درک کړي او د زیان اوښتلو وړ خلکو ملاتړ وکړي.<br><br>5.2 ماشومان او تنکي ځوانان معلوماتو ته لاسرسی ولري، ملاتړ او شکایتونه په داسې لاروچارو سره مخته بوځي چې په کلتوري ډول خوندي وي، د لاسرسي وړ وي او د پوهیدو لپاره اسانه وي.<br><br>5.3 مؤسسه د معلولیت لرونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو اړتیاو ته ځانګړي پاملرنه وکړي، د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو په ګډون څوک چې له کلتوري او ژبنې پلوه بیلابیل شالیدونه لري، څوک چې په کور کې نشي اوسیدلی او یا لیسبیان، همجنس باز، نربښځی او دواړو جنسونو ته مایله ماشومان او تنکي ځوانان وي.<br><br>5.4 دغه مؤسسه د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو اړتیاو ته ځانګړي پاملرنه وکړي او د هغوی لپاره د کلتور له پلوه یو خوندي چاپیریال رامنځته کړی/وده ورته ورکړي. | د ماشوم خوندي معیارونه مؤسسات تل دې ته اړ باسي چې تنوع ته ځواب ویونکي واوسي او ویې پیژني او په دې پوه شي چې ځینې ماشومان د نورو په پرتله د ناوړه ګټه اخیستنې په وړاندې ډېر زیانمنیدوکي دي. تر دې دمه دا خبره د اصلي اوسیدونکو ماشومانو د کلتوري خوندیتوب او یا د ژبنې پلوه متنوع او معلولیت لرونکو ماشومانو په خوندیتوب پورې اړونده د درې اصولو له لارې څرګنده شوي ده.<br>دا مکلفیتونه ادامه لري، خو د ماشوم نوي خوندي معیار 5 ځینې اضافي مکلفیتونه روښانوي، چې مؤسسات اړتیا لري ترڅو:<br>• د ماشومانو او تنکیو ځوانانو د بېلابېلو شالیدونو، وضعیتونو او اړتیاوو درک کول.<br>• هر ډول اړین ترتیبات او د ټولو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره مساوي خوندیتوب رامنځته کړي.<br>• د هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو د اړتیاوو درک کول څوک چې په کور کې نشي اوسیدلی او یا لیسبیان، همجنس بازان، نربښځی، ایزک او دواړو جنسونو ته مایله ماشومان او تنکي ځوانان وي.<br><br>د نوي معیار تمرکز ته په پام کې نیولو سره چې د ماشومانو په بیلابیلو وضعیتونو باندې د پوهیدو په اړه دي، مؤسسات به اړتیا ولري، ترڅو د همجنسه او د جندر له پلوه بیلابیلو ماشومانو ته هم پاملرنه وکړي.<br><br>دا معیار له نوي 1 معیار سره وصلیږي، کوم چې مؤسسات دې ته اړباسي چې د کلتور له پلوه خوندي چاپیریال رامنځته کړي، په کوم کې چې د اصلي اوسیدونکو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ځانګړي او متنوعه هویتونو او تجربو ته درناوی او ارزښت ورکول کیږي. | د ماشوم د خوندی مؤسسې د رامنځته کولو لپاره د کمیسون لارښود د تنکیو ځوانانو، په ځانګړي توګه د اصلي اوسیدونکو ماشومانو، د کلتوری او/یا د ژبنې پلوه متنوعه او معلوله ماشومانو لپاره ځینې ګټورې لارښوونې وړاندې کوي.<br><br>د 4 ملي اصولو اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنایي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 6 خوندي معیار - هغه خلک چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو سره کار کوي وړ دي او ملاتړ ترې شوی ترڅو د ماشوم خوندیتوب او هوساینې ارزښتونه په عمل کې منعکس کړي.**<br><br>د ماشوم 6 خوندي معیار سره په مطابقت کې یوه مؤسسه باید لږترلږه داډ ترلاسه کړي چې:<br>6.1 ګمارنه، اعلانات، ریفرینس چک، د کارمندانو او رضاکارانو د مخکینیو کاري تجربو سکرینینګ، د ماشومانو د خوندیتوب او هوساینې په اړه ټینګار کوي.<br><br>6.2 اړونده کارمندان او رضاکاران باید د ماشومانو سره د کار کولو لپاره اوسني چک یا ارزونه ولري او یا د شالید سره د مطابقت په اړه ارزونې ولري.<br><br>6.3 ټول کارمندان او رضاکاران یو له بل سره مناسب تعارف وکړي او د ماشومانو او تنکیو ځوانانو په اړه د خپلو مسؤولیتونو څخه خبر واوسي، د ریکارډ ساتلو، معلوماتو شریکولو او راپور ورکولو د مکلفیتونو په ګډون.<br><br>6.4 روانه څارنه او د خلکو مدیریت د ماشوم پر خوندیتوب او هوساینې تمرکز کوي. | د خوندي ماشوم اوسني معیارونه واردمخه مؤسسات دې ته اړ باسي چې د ګمارنې او انتخابي پروسې، سکرینینګ، نظارت، روزنې، پراختیا او د کارمنانو او داوطلبانو د فعالیتونو د څارنې لپاره پالیسیانې او طرزالعملونه ولري.<br>همدا راز دوی اړ دي، چې کارمنان او رضاکاران د ماشوم د خوندیتوب د مسایلو لپاره د مؤسسې د راپور ورکولو د پروسو څخه خبر کړي.<br>د ماشوم 6 خوندي نوي معیار ته په پام کې نیولو سره، مؤسسات به نوي مسؤولیتونه ولري چې کارمنان او رضاکاران په دې اړه خبر کړي چې:<br>• د مؤسسې د ریکارډ ساتلو پروسه چې د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې اړونده وي.<br>• د معلوماتو شریکول او د راپور ورکولو مکلفیتونه. | د ماشوم د خوندی مؤسسې د رامنځته کولو لپاره د کمیسون لارښود د ګمارنې او انتخابي پروسې، سکرینینګ، نظارت، روزنې، پراختیا او د کارمنانو او رضاکارانو د فعالیتونو د څارنې په اړه کوم چې د ماشوم د خوندیتوب ملاتړ کوي پراخه لارښوونې لري.<br><br>د 5 ملي اصولو اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنایي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
|---|---|---|
| **د ماشوم 7 خوندي معیار - د شکایتونو او اندیښنو پروسې پر ماشوم تمرکز کوي**<br><br>د ماشوم 7 خوندي معیار سره په مطابقت کې یوه مؤسسه باید لږترلږه ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>7.1 مؤسسه پر ماشوم باندې د متمرکزه شکایتونو کولو د لاسرسي وړ پالیسي لري، کومه چې په روښانه توګه د مشرتابه، کارمندانو او رضاکارانو لپاره ضوابط او مسؤولیتونه، د شکایتونو د مختلفو ډولونو سره د چلند کولو کړنلارې، د چلند د اصولو د اړوندو پالیسیو نقض او په اړه یې د ګام پورته کولو او راپور ورکولو مکلفیتونه په ګوته کړي.<br>7.2 د شکایت اغیزمنې پروسې د ماشومانو، تنکیو ځوانانو، کارمنانو او رضاکارانو لخوا درک کیږي او د کلتور له پلوه خوندي وي.<br>7.3 شکایتونه په جدي ډول وڅیړي او په سمدستي او بشپړ ډول ورته ځواب ویل شوی وي.<br>7.4 دغه مؤسسه پالیسیانې او طرزالعملونه لري او اړونده چارواکو ته د شکایتونو او اندیښنو په اړه راپور ورکولو ته رسیدګي وکړي، توپیر نه لري که چیرې قانون راپورورکول غواړي او که نه او د قانون پلي کوونکو سره همکاري کوي او که.<br>7.5 د راپور ورکولو اړونده مکلفیتونو، محرمیت او د ګمارنې قانون مراعت کړي. | د ماشومانو د خوندیتوب اوسني معیارونه مؤسسات اړ باسي چې اغیزمنې پروسې ولري کومې چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو ملاتړ کوي ترڅو خپل شکایتونه راپورته کړي او ډاډ ترلاسه کړي چې مؤسسه کولی شي، چې په مناسبه توګه ځواب ویونکې واوسي او د ماشومانو په اړه شکمن ناوړه چلند ریپورټ کړي.<br>د ماشوم 7 نوی خوندي معیار د کارمندانو او رضاکارانو سربیره د شکایتونو پروسو پر اهمیت ټینګار کوي کومې چې پر ماشومانو باندې تمرکز کوي او ماشومان، تنکي ځوانان او د هغوی کورنۍ یې په اړه پوهول شوي وي.<br>همدا راز د ماشوم 7 نوي خوندي معیار د مؤسساتو لپاره مکلفیتونه روښانه کوي چې:<br>• شکایتونه جدي ونیسي، په سمدستي او بشپړ ډول ورته ځواب ووایې.<br>• د قانون د پلي کوونکو سره همکاري وکړي.<br>• راپور ورکړي، او د کار او محرمیت مسؤولیتونه سرته ورسوي. | د ماشوم د خوندي مؤسسې د رامنځته کولو لپاره د کمیسون لارښود د راپور ورکولو او طرزالعملونو په اړه اړونده مشورې وړاندې کوي.<br>د کمیسون ویبسایټ د هغې مؤسسې په اړه چې په دې طرحه کې شامله وي د راپورورکولو وړ چلند طرحه لري.<br>د ماشوم د خوندیتوب ملي دفتر پر ماشوم باندې د متمرکزو او او د لاسرسی وړ د شکایتونو پروسې رامنځته کولو لپاره سرچینې خپرې کړي دي.<br><br>د 6 ملي اصولو اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایې زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنایي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معيارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
|---|---|---|
| **د ماشوم 8 خوندي معيار - کارمندان او رضاکاران د پوهې، مهارتونو او پوهاوي سره مجهز شوي دي ترڅو ماشومان او تنکي ځوانان د روان تعليم او روزنې له لارې خوندي وساتي.**<br>یوه مؤسسه باید لږترلږه د ماشوم د 8 خوندي معيار سره په مطابقت کې ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>8.1 کارمنان او رضاکاران د دې لپاره روزل شوي او ملاتړ ترې شوی ترڅو مؤسسه په اغیزمنه توګه د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې پالیسي پلې کړي.<br>8.2 کارمنان او رضاکاران روزنه او معلومات ترلاسه کړي ترڅو د ماشوم د زیان علامات وپیژني په شمول د هغو زیانونو چې د نورو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لخوا ترسره شوي وي.<br>8.3 کارمنان او رضاکاران روزنه او معلومات ترلاسه کوي، ترڅو د ماشوم په اړه د خوندیتوب او هوساینې مسایلو ته په اغیزمنه توګه ځواب ووایې او د خپلو همکارانو ملاتړ وکړي، څوک چې زیان په ډاګه کوي.<br>8.4 کارمنان او رضاکاران په دې اړه روزنه او معلومات ترلاسه کړي، چې څنګه وکولی شي د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د کلتور له پلوه خوندي چاپیریالانو رامنځته کړي. | د اوسني ماشوم خوندي معيارونه دمخه مؤسسات اړباسي چې د کارمندانو او رضاکارانو ته معلومات او روزنه ورکړي، ترڅو وکولی شي، د ماشوم خوندي چاپیریال رامنځته کړي او د ناوړه ګټه اخیستنې تورونو ته ځواب ووایې.<br><br>د ماشوم 8 خوندي نوی معيار د مؤسساتو لپاره مسؤولیتونه په ډاګه کوي کوم چې د کارمنانو او رضاکارانو روزنه او ملاتړ کوي او د روان تعليم او روزنې فرصتونه برابروي چې:<br>• د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې په اړه د مؤسسې پالیسي پلي کړي.<br>• د زیان نښې نښانې وپیژني (لکه هغه زیان چې د نورو ماشومانو او تنکیو ځوانانو لخوا رامنځته شوی وي).<br>• د ماشوم د خوندیتوب مسایلو او اندیښنو ته په اغیزمنه توګه ځواب ووایي او د هغو همکارانو ملاتړ وکړي څوک چې زیانونه رابرسیره کوي.<br>دا معيار د 1 نوي او 5 معيارونو سره وصلیږي او نور ټول درې معيارونه په مؤسساتو باندې مکلفیتونه ږدي ترڅو د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره د خوندي چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د کارمنانو او رضاکارانو لپاره روزنه او معلومات چمتو کړي. | د ماشوم د خوندي مؤسسې د رامنځته کولو لپاره د کمیسون لارښود د پوهې، مهارتونو او د کارمندانو او رضاکارانو د پوهاوي په اړه ځینې معلومات لري چې اړ دي ترڅو ماشومان او تنکي ځوانان خوندي وساتي.<br>د کمیسون ویبسایټ د هغې مؤسسې په اړه چې په دې طرحه کې شامله وي د راپورورکولو وړ چلند طرحه لري.<br><br>د ښوونځیو لپاره د پوهنې او روزنې د ریاست لارښود د ناوړه ګټه اخیستنې د نښو نښانو په اړه ګټور معلومات لري.<br><br>د ملي اصولو 7 اړوند د آسټرالیا د بشري حقونو کمیسون د بریښنایي زده کړو رغبېلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او د ماشومانو د خوندی مؤسسو د بریښنايي زده کړو د پورټال له لارې ورته لاسرسی کیدلی شي. |

| د ماشوم خوندي نوي معيارونه (په 1 جولای، 2022م کې پيلېږي) | څه نوي دي او يا بدلېږي؟ | ګټوري سرچينې |
| --- | --- | --- |
| **د ماشوم 9 خوندي معيار - د فزيکي او آنلاين چاپيريال خونديتوب او هوساينې ته وده ورکوي پداسې حال کې چې ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د زيان رسولو فرصت راکموي.**<br>يوه مؤسسه بايد د ماشوم 9 خوندي معيار سره په مطابقت کې لږترلږه دا ډول ترلاسه کړي چې:<br>9.1 کارمنان او رضاکاران په آنلاين او فزيکي چاپيريالونو کې خطرات په ګوته او راکم کړي پرته له دې چې د يو ماشوم د محرميت، معلوماتو ته د لاسرسي، ټولنيزو اړيکو او د زده کړې د حق په فرصتونو باندې معامله وکړي.<br>9.2 آنلاين چاپيريال د مؤسسې د چلند د اصولو او د ماشوم د خونديتوب او هوساينې د پاليسي او کړنلارې سره سم وکارول شي.<br>9.3 د خطر د مديريت کولو پلانونه، د مؤسسې فعاليتونه او د فزيکي چاپيريال لخوا د رامنځته شوي خطرونه په پام کې ونيول شي.<br>9.4 مؤسسې چې د درېيم لاس ډلو سره د اسانتياو او خدماتو تړون لري، بايد د تداکارتو پاليسۍ چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو خونديتوب تضمينوي ولري. | د ماشوم اوسني خوندي معيارونه وار دمخه د مؤسساتو څخه غواړي چې د دواړو فزيکي او آنلاين چاپيريالونو سره د تړليو خطراتو څخه باخبره وي او د ماشومانو څخه د ناوړه ګټه اخيستنې د خطراتو د لرې کولو لپاره ګامونه اوچت کړي.<br>د ماشوم 9 نوی خوندي معيار د مؤسساتو لپاره ځينې ځانګړي مسؤليتونه لري چې:<br>• د فزيکي چاپيرياالاتو سربيره آنلاين چاپيرياالانه په پام کې ونيسي.<br>• د ماشوم او يا د تنکي ځوان د محرميت، معلوماتو ته د لاسرسي، ټولنيزو اړيکو او زده کړې فرصتونو په حق باندې د معاملې کولو پرته په دغو چاپيرياالانو کې د خطراتو پېژندل او راکمول.<br>• د ماشوم خونديتوب او هوساينې ته وده ورکول او همدا راز ماشومانو او تنکيو ځوانانو ته د زيان اړولو فرصتونه راکمول.<br>• که چيرې مؤسسه د درېيم لاس ډلو سره د اسانتياو او خدماتو ورکولو تړون ولري، نو ورته پکار ده چې د تداکارتو پاليسۍ چې د ماشومانو او تنکيو ځوانانو خونديتوب تضمينيوي ولري. | د ماشوم د خوندي مؤسسې د رامينځته کولو لپاره د کميسيون لارښود د ناوړه ګټه اخيستنې د خطراتو پېژندلو او راکمولو په اړه سلا مشورې وړاندې کوي.<br><br>د کويډ-19 وبا پرمهال د ماشومانو او د تنکيو ځوانانو په اړه د کميسون آنلاين ويبسايټ ګټوری لارښوونې او لينکونه وړاندې کوي.<br>د آنلاين کميشنر ويبپاڼه په آنلاين توګه د ماشومانو د خوندي ساتلو په اړه ټولشموله سلامشورې وړاندې کوي.<br><br>د آسټراليا د بشري حقونو د کميسون چيک ليست د آنلاين خونديتوب او د 8 ملي اصولو د زده کړې آنلاين رغبيلګه ګټوری سلامشوری وړاندې کوي او د خوندي ماشوم د مؤسسې په آنلاين ډول د زده کړې د پورټال له لارې د لاسرسي وړ دي. |

| د ماشوم خوندي نوي معیارونه (په 1 جولای، 2022م کې پیلیږي) | څه نوي دي او یا بدلیږي؟ | ګټورې سرچینې |
|---|---|---|
| **د ماشوم 10 خوندي معیار - د ماشوم د خوندي معیارونو پلي کول په منظم ډول بیاکتل کیږي او ښه کیږي.**<br>یوه مؤسسه باید لږترلږه د ماشوم د 10 خوندي معیار سره په مطابقت کې ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>10.1 مؤسسه په منظمه توګه د ماشوم د خوندي کړنو بیاکتنه، ارزونه او پرمختنه کوي.<br>10.2 شکایتونه، اندیښنې او د خوندیتوب پیښې څیړي ترڅو د دوامداره ښه توب د خبریدو او سیستماتیکې ناکامۍ لاملونه په ګوته شي.<br>10.3 مؤسسه د کارمنانو، رضاکارانو، ټولنو، کورنیو، ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته د اړونده بیاکتنو د موندنو په اړه راپور ورکړي. | بیاکتنه او دوامداره وده واردمخه د ماشوم د خوندي معیارونو برخه ده.<br>د ماشوم 10 نوی خوندي معیار د مؤسساتو لپاره نوي مکلفیتونه لري ترڅو:<br>• شکایتونه، اندیښنې او د خوندیتوب پیښې وڅیړي ترڅو د دوامداره ښه توب د خبریدو او سیستماتیکې ناکامۍ لاملونه په ګوته شي.<br>• کارمنانو، رضاکارانو، ټولنو، کورنیو، ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته د ماشومانو د خوندي روزنو اړونده د بیاکتنو د موندنو په اړه د راپور ورکول. | د [ماشوم د خوندي مؤسسې د رامینځته کولو لپاره د کمیسیون لارښود](#) د ځان ارزونې وسیله (د [ورډ فایل](#) په توګه موجوده ده) د مؤسساتو سره مرسته کوي ترڅو د اوسني ماشوم د خوندیتوب د معیارونو سره په پرتلنې د ماشومانو د خوندیتوب په اړه په خپلو اصولو بیاکتنه وکړي. یوه نوې وسیله به د ماشوم د نویو خوندي معیارونو په وړاندې د بیاکتنو د ملاتړ لپاره خپره شي.<br>د آسترالیا د بشري حقونو د کمیسون د 9 ملي اصولو د آنلاین رغبیلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او [د خوندي ماشوم د مؤسسې په آنلاین ډول د زده کړې د پورټال](#) له لارې د لاسرسي وړ دي. |
| **د ماشوم 11 خوندي معیار - پالیسۍ او طرزالعملونه دا مستندوي چې څرنګه یوه اداره د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره خوندي ده.**<br>یوه مؤسسه باید د ماشوم 11 خوندي معیار سره په مطابقت کې لږترلږه ډاډ ترلاسه کړي چې:<br>11.1 پالیسۍ او طرزالعملونه د ماشوم د ټولو خوندي معیارونو ملاتړ او رسیدنه کوي.<br>11.2 پالیسۍ او طرزالعملونه مستند شوي وي او د پوهیدلو لپاره اسانه وي.<br>11.3 د غوره نمونو وړاندې کول او د ښکیلو اړخونو سره سلامشورې کول، د پالیسیو او طرزالعملونو د پراختیا په اړه خبرول.<br>11.4 مشران د پالیسیو او طرزالعملونو مطابق ځانونه عیار کړي او ورته ژمن واوسي.<br>11.5 کارمندان او رضاکاران په پالیسیو او طرزالعملونو پوه شي او عملي یې کړي. | د ماشوم د خوندي دودونو د پلي کولو د ملاتړ لپاره د ټولشمولو پالیسیو او طرزالعملونو چمتو کول، کومې چې د مخکې څخه د اوسني ماشوم د خوندي معیارنو لخوا اړین وي.<br>د ماشوم 11 نوی خوندي معیار د مؤسساتو لپاره نوي ملکفیتونه لري چې:<br>• پالیسیانې او طرزالعملونه د پوهیدلو په پار اسانه کړي.<br>• د ښکیلواړخونو سره سلامشورې وکړي او د غوره کړنلارو د طرحو څخه د پالیسیو او طرزالعملونو د پراختیا لپاره ګټه واخلي.<br>• د مؤسسې مشرانوڅخه ډاډ ترلاسه کړی چې د پالیسیو او طرزالعملونو موډل پلی کوي او ورته ژمن دي. | د [ماشوم خوندي مؤسسې د رامینځته کولو لپاره د کمیسیون لارښود](#) د 2 اوسني معیار په اړه نمونه ییزې پالیسیانې او ګټورې لارښوونې وړاندې کوي.<br><br>د آسترالیا د بشري حقونو د کمیسون د 10 ملي اصولو د آنلاین رغبیلګه ګټورې سلامشورې وړاندې کوي او [د خوندي ماشوم د مؤسسې په آنلاین ډول د زده کړې د پورټال](#) له لارې د لاسرسي وړ دي. |